ع، شيرزوی
۲۰۱۶/۰۲/۲۰

# د پښتو ژبې تاريخي شا ليد

## دريمه برخه

بل اروپايي پښتو پوهاند او محقق هانري والټربيليو Henery Walter Belew دي چې (۱۸۶۷ ع کال) په ښاو خوا کې د بنګال عسکرى منصبدار و، دي سړي هم د پښتو ګرامر ښکلي دي، د پښتو د ژبې په اصالت هسې وايې: د ټولو پلټنو څخه په لنډ ډول دا نتيجه اخلم چې: پښتو اصلاً د سنسکريت يوه خور ده او ځکه چې د هند او ايران تر منځ ويله کيږي، نو به پيريو د پارسى اثرونه پرې لويدلى دي او ډير الفاظ سره ګډ شوي دي، خو سره د دي دغې ژبې خپل ځان او قواعد نه دي بايلي او د فيلالوژي د اصولو سره سم نوي شيان يې په خپل قالب کې اچولي دي.

د ژبپوهني يو ستر عالم ډاکتر ترومپ Dr.trumpp په پوره اعتماد سره وايې چې پښتو ژبه په اصل کې د غربي «ايراني» ژبو په ډله کې شامله نده بلکې د قديمي زمانې څخه را پدې خوا دا ژبه يوه زړه او مقتدره ژبه ده.

پروفيسور دورن Prof. Dorn چې په پترزبورګ کې اوسيده او په (۱۸۴۷ ع کال) يې يو کتاب Chrestomathy of the Pushtu چاپ او خيور کړ هسې وايې: پښتو نه په ترکيب، نه په لغاتو او نه ګرامر کې له عبراني او چالديک Chaldic سره څه مشابهت لري، ځکه دا ژبه له انډوتيوتن Indu Teutonic ډلې سره ګڼله کيږي او پښتانه د افغانستان اصلي او پخواني اوسيدونکي دي. بل اروپايي عالم او د پښتو پوهاند جيمزډارمستټر James Darmsteter فرانسوي دي چې د دې يو کتاب د پښتنو ملي سندرې Chants Papulaires des Afghan په (۱۸۸۹ ع) کې نشر شوي دی دا محقق په خپله د پښتونخوا په غرو کې ګرځيدلي او ډير ملي اشعاريې (د پښتونخوا «شعر» هار او بهار) په نامه سره راغونډ کړي دي: د پښتو په خصوص کې دا نظريه لري :«پښتو له هندي لهجو څخه نه ده او نه د پاړسو او پهلوي څخه پيدا ښوي ده، بلکې دا ژبه د زند، (اوستا) يا د يوې ژبې سره چې زند ته ورته وي، دير مشابهت لري پښتو اشعار د سپېڅلتوب او طبعي والي له پلوه خاص امتياز لري، بدايع او نازکخيالي يې ډيره سپيڅلې او سوچه ده....... پښتانه اخبار نه لري، خو د دوي اشعار ټول وقايع او روزمره پيښې څرګندوي، دا بدلې د پښتو تاريخ هم دی» (پوهاند حبيبي عبدالحی، د پښتو د ادبياتو تاريخ لومړی او دويم ټوک، دانش خپرندويه ټولنه ۱۳۸۴/ ل / ۲۰۰۵م / ص ۷۹/ ص۸۰/ ص۸۱.)

د دي ټولو دلايلو پر بنسټ دا ويلي شو چې پښتون هغه قوم دی چې اول ځلئ يې له پاره يې په ريګويدا کې Rig Veda کې د «پکتها» او د «پکهت» په نامه شوي دي، د دي نه ورستيو د باختر د استوګنې په وجه په «باخدی» شهرت موندلي دي او په اوستا کې «بخدي» به نوم ذکر دي او د بلخ ښار چې ام البلاد (د ښارونو مور)هم د دوي په نوم شهرت موندلي دي، بيا ورسته د هخامنشي په دوره کې (۵۰۰ق م) د يوناني مورخينو له خوا د «پکتيوس، پکتيوان او د دوي ملک ته يې پکتيا، پکتيکي او پکتين په نامه ياد شوي دي»

دغه ټول الفاظ د اوسنېو لفظونو پښتون او پښتيخا (پښتونخوا) سره مطابقت لري دا ځکه چې به مستشريقينو کې د لومړی ځل له پاره پروفيسور «لاسن» Prof. Lassen چې د باختري يونانيانو تاريخ يې ليکلي دي د هيروډوټس Herodote د پکتيوس او د اوسنې زمانې د ښتون د لفظ تر منځ مشابهت يو شان دي، او بيا ورسته نوروپوهانو لکه: ډاکټرټرومپ Dr.Trumpp، او ګويوريسن Grieson دغه مطابقت يې تايد کړيدي، پس د دي ټولو تاريخې شواهدو په رڼا کې ويلي شو او دا خبره واضيح شوه چې پښتون قوم د آريايې قبايلو يوه څانګه او د دوي ژبه د آريايې ژبو د کورنۍ څخه يوه ژبه ده. آريايې اقوامو په خپل لومړنی ټاټوبې «آريانا ويجو» کې ځان له يوه ژبه درلوده چې د هغې ژبې څخه وروسته هندي، ايراني او بخدي راوتلي دي. د آريانا ويجه به هکله ګڼ شمير پوهان يو نظر نلري ځيني وايې: د بالتيک غاړي د دوي اصلي ځای بولي او ځيني وايې: د تور سين غاړې، بله ډله پدې اند دي چې د خذر د ډنډ ختيځ او شمالي غاړې د آريايانو اصلی مرکزونه و.

آريانا ويجو Aryana...Vaego يو له ډيرو مهمو مسايلو څخه چې ټوله آريايې ټولنه، هندي او ايراني ټولنه او په عمومي ډول هندي او اروپايي ټولنه چې ډيره ځانګړې ليوالتيا ورسره لري آريايې پالنځې « روزنتون » يا.....


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

آریایي زانګو یا استوګن ځای هغه موضوع ده چې د کلونو کلونو راهیسې یې د ختیځ او لویدیځ د ډیرو پوهانو پاملرنه یې ځانته راړولي ده او د هغې په باره کې بیلا بیل موضوعات منځ ته راغلي.
تر هر څه لومړی باید دا څرګنده شي، چې آریایي استوګن ځای یا زانګوڅه شی دی؟ ځکه چې هند او اروپایي قومونو د یوې سترې بشرې ټولنې په توګه مختلف مرکزونه درلودل، چې لږ تر لږ یې یو د «لومړنۍ زانګو» او پاتې نورېې د سترو ځانګو په توګه ګڼلای شو، دا زانګو له مرکزي آسیانه نیولې د خذر تر منځ جنوب، بالقان او د دانیوب تر سیمې پورې مختلف ځایونه ټاکلی. دا استوګن ځایونه له سترو ځانګو نه یوه همدا د آریایي ټولنې څانګه ده چې د هندو، ایراني په شهادت یې د (آریا) یا ( ایریا) په نوم یادول او ډیر په افغانستان، هند او ایران کې تیتې شوي دي چې په اوستا کې د آریایي قومونو استوګن ځای (آریانا ویجه) یاد شویدي.
داسې څرګندیږي چې (آریانا ویجه) هغه قطعه ځمکه ده چې نسبتاً لوړه او د ځینو رودخانو سره نښتې، چې نوم او نښان یې د یو شمیر ځانګړنو سره موجود دي، نو د دې مطالبو په پام کې نیولو سره کولی شو چې دا قطعه ځمکه د آکسوس (آمو دریا) او سر دریا ترمنځ د فرغانې په سیمه کې تثبیت کړو. د ډیرو معلوماتو له پهره وګورئ (استاد کهزاد احمدعلی،افغانستان د تاریخ په رڼا کې، دانش خپرندویه ټولنه، کب، ۱۳۷۹ ص۳۲/ ۳۳/ ص۳۴۹ )
خو ځینې پوهان دې ته هم تللي دي چې د آریایانو د توکم اصلی ځای د پامیر لوړې ځمکې او د آمو سرچینې دي په هر صورت د آریایي توکم اصلی ځای هر چیري چې و خو پر دوي هغه ځای تنګ شو چې د خلکو د خوړولو له پاره څه په کې نه موندل کیده، نو ځکه آریایي توکم د هغې ځمکې څخه لیږدونه «هجرت او کوچ» وکړ د دغه لیږد زمانه (۴۰۰۰ ق م) تخمین کیږي.
دوکتورپې، ګلس P.Giles د کېمبرج د پوهنتون د مقایسوي فیلالوژی پروفیسور ددغه آریایي اقوامو په باب معلومات راکوي. ((هندو آریایي نوم پر آریایي اقوامو او ژبو تر ټولو د مخه دوکتور تهوماس ینګ Dr.Thomas Young ایښې دي اما د هندو ژرمن اصطلاح تر ټولو دمخه په (۱۸۲۳ع) کال یوه جرمنی ژب پوهاند کیلپروت Klaproth باب کړه دې پوهانو د ژبو ږغونه، قواعد، عمومی ریښې، ستې او ټول خصایل ولیدل او یو ډله ژبې یې په دغه نوموله یوې کورنۍ څخه وګڼلې اما تر ټولو دمخه سروولیم جونز W.jones دهند آسیایي ټولنې مشر په ۱۷۸۶م / کال دغه ژبې یوه کورنۍ ګڼلې وي خو دغه نومونه ورسته پرې کیښودل شوه))
دا خلک چې هندي اروپایي ژبې ویلي د انسانانو د سپین توکم څخه و دوي ځیني ښاروي او بوټې پیژندل هغه اریایان چې د آمو غاړو او باختر ته راورسیدل خورا د مخه وخت یې ۲۵۰۰ ق م تخمین کیږي د علمی پلټنو څخه دا خبره زباده شوې ده چې دغو آریایي اقوامو تر خپریدو دمخه یوه ژبه او یو مذهب درلود، یو بل دلیل هم پر دغې تاریخي خبرې باندې هم شته له ۱۱۸۰/۱۷۴۶ق م پورې یو قوم چې کاسي Kassites نومیده او د «زراګرس» په غرو کې اوسیدل پر بابل او عیلام یې سلطنت وکړ. د دغه کاسیانو پر ژبه همدغسې کلمات راغلي دي چې سوچه آریایي دي.د مثال په ډول : شوریاس Shurias او مریتا س Marytas چې د سنسکریت سوریا Surya «لمر» او مروتاس Marytas د «باد رب النوع» سره پوره ورته دي. (پوهاند حبیبي عبدالحی، د پښتو د ادبیاتو تاریخ لومړی او دویم ټوک، دانش خپروندویه ټولنه، ۱۳۸۴/ ل / ۲۰۰۵ / م ص ۳۶/۳۵ )
هغه ږغونه چې انسان یې تر خولې راباسي، ډول ډول دي او بیا هم د ږغونو مرکبات ډیر دي، ځکه ژبې هم پر دنیا ډیرې دي د ژبې پوهانو د نړۍ ژبې په ډول ډول وېشلي دي یوه مشهوره ویشنه چې پروفیسور «اډیلنګ» ته یې نسبت کیږي او ویلي چې ژبې د سموالي او تهذیب په درجه په دوه ډوله دي:
۱/ کښته ژبې: چې لغات یې د بیان له امله کښته او الفاظ یې خورا لنډ یوه یوه هجا وی، د اسم او حرف فرق یې نه کیږي او له یوه لفظه به یې د نورو مستقلو الفاظو په نښلولو سره فعل او حرف جوړیږي، چې د جنوبې افریقا زنګیانو او د امریکا د هندیانو او شمال شرقی ایشیا او د چین ژبې له دغې ډلې څخه دي.
۲/ لوړې ژبې: هغه ژبې دي چې لمنې یې ډیرې پراخې دي او هر راز تعابیر چې انسان ورته اړ وي لری یې او د الفاظو هجا وې هم دیرې دي، د متمدن عالم ژبې له دې ډلې څخه دي چې دا هم په دوه ډوله ویشل کیږي:
الف: اوښتونکې (متصرفه) ژبې:
دا هغه ژبه ده چې د اړولو قابلیت لري، پر کلماتو پورې یې د مخه هم ملحقات نښلي او ورسته هم ځینې نخښې لري چې د کلمې د مخه راځي چې په عربې کې ورته (سابقه) او په اروپایي اصطلاح کې یې Prefixes او په پښتو کې ورته (مخنی) بولي دغه ځینې نوري نخښې هم پدغه ژبو کې شتون لري چې تر کلمو وروسته راځي چې په پښتو ژبه کې ورته (وروستنۍ) او په اروپایي اصطلاح یې Suffixes او په عربي یې (لاحقه) بولی او دغه مخنۍ او ورستنۍ ځانله بیلې معناوې هم لري. اوښتونکې ژبې دوې مشهورې څانګې لري:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لومړۍ څانګه: آریایي ژبې دي، چې زمونږ د وطن آریایي نسل پرې خبري کوي هر ځای چې زمونږ د خاورې څخه آریایان تللي دي د دوي ژبو ته آریایایي وایو او اروپایان دې ژبو ته (هندواروپایي) Indo European هم وایي دا ژبې شمالی او جنوبې څانګي لري، شمالي یې: د اروپا آریایي دي، لکه لاتیني Latin یوناني Greegue سلتي Celtigue سلاوي Clave، تیوتونیک Teutonigue جنوبې یې د ایشیا آریایي ژبې دي، لکه سنسکریت، زند، پښتو، پاړسو.

دویمه څانګه: سامی ژبې دي چې د پخوانیو متمدنو قومونو لکه، بابل، اشور، فنیقه ویلي سامي ژبې دا ډولونه لري: آرمي: د بابل زړه ژبه ده چې سریاني او کلداني یې څانګي دي. عبراني چې تورات په دې ژبه دی او اسرایلیانو آرمي او کلداني سره ګډه کړه، عربي په سامي ژبو کي خورا ښه او مشهوره ژبه ده چې عربي ملتونه یې وایي او د اسلام او قرآن مقدسه ژبه بلل کیږي حبشي ژبه هم د عربي ژبې څانګه ده.

## د دریمې برخې پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ